د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز


# تحلیل هفته

**ګڼه: 489**

(09 - 15 سنبله 1404 هـ ش)

## په سیپیک (CPEC) کې د افغانستان ګډون او د هند غبرګون

---




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- په سیپیک (CPEC) کې د افغانستان ګډون او د هند غبرګون........................................3
- سیپیک (China-Pakistan Economic Corridor) ..................................................3
- په سیپیک کې د افغانستان ګډون..................................................................4
- د افغانستان لپاره يې ګټې...........................................................................5
- د افغانستان لپاره يې زيانونه.......................................................................7
- هند ولې په سيپیک کې د افغانستان له ګډون سره مخالف دی؟.................................8
- پایله .......................................................................................9
- وړاندیزونه ....................................................................................10
- مأخذونه......................................................................................10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## په سیپیک (CPEC) کې د افغانستان ګډون او د هند غبرګون

### سریزه

افغانستان اسلامي امارت له حاکمیت وروسته خپله بهرنۍ پالیسي اقتصاد محوره اعلان کړه او هڅې یې وکړې چې د همدغې پالیسۍ په چوکاټ کې سیمه ییز اتصال رامنځته کړي. د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي وایي: هڅه مو دا ده چې افغانستان د امنیتي ننګونو له روایت څخه د اقتصادي نښلون د څلور لارې په روایت بدل کړو او نوي ځمکني واقعیتونه هم زموږ د دغه سیاست له بریالیتوب سره مرسته کوي.[1]

د اسلامي امارت د بیا واکمنۍ وروسته د افغانستان او چین سیاسي او اقتصادي اړیکې پیاوړې شوې و ان دا چې چین د افغانستان اسلامي امارت سفیر په رسمي ډول ومانه او په افغانستان کې یې ګڼې اقتصادي پروژې په لاره واچولې، چین غواړي چې افغانستان له سیپک سره ونښلوي، خو د اسلامي امارت او پاکستان سیاسي اړیکې په دې ورستیو کې کړکېچنې شوې دي او دغه خرابې اړیکې له سیپک سره د افغانستان د نښلون په مقابل کې خنډ دی، له همدې امله چین هڅه کوي چې د چین، پاکستان او افغانستان درې اړخېزې ناستې چې په ۲۰۱۷ز. کال کې یې په بېجینګ کې لومړنۍ، په ۲۰۱۸ز. کال په کابل کې یې دویمه او په همدغه کال په اسلام اباد کې یې دربیمه او څلورمه غونډه یې د کرونا وایرس له امله په انلاین بڼه ترسره شوه، بیا پیل کړي، تر څو چین د پاکستان او افغانستان ترمنځ شته ستونزې حل کړي او امنیتي او اقتصادي همکارۍ رامنځته کړي، په همدې موخه یې د دې درې اړخیزې غونډې پنځمه غونډه چې د اسلامي امارت د دورې لومړنۍ غونډه وه په ۲۰۲۳ز. کال په اسلام اباد کې او شپږمه غونډه یې په ۲۰۲۵ز. کال په اګست میاشت کې ترسره کړه. په دې وروستۍ شپږمه غونډه کې د بحث اصلي موضوع له سیپک سره د افغانستان نښلول دي چې په مقابل کې یې هند سخت غبرګون ښودلی او له دې پروژې سره یې د افغانستان نښلون سره مخالفت کړی دی. دا چې هند ولې په سیپک کې د افغانستان له ګډون سره مخالفت ښودلی دی؟ که افغانستان له سیپک سره وصل شي، نو څه ګټه به وکړي او کوم زیانونه به ووینې؟ دا هغه اصلي پوښتنې دي چې په دې تحلیل کې به یې ځواب کړو.

### سیپک (China-Pakistan Economic Corridor)

چین په ۲۰۱۳ز. کال کې د یو کمربند یوې لارې نړیواله اقتصادي پروژه په لاره واچوله، چین غواړي چې له دې پروژې سره ٦٥ هېوادونه او ۴,۴ میلیارده خلک ونښلوي او له دې لارې په کلني ډول ۲,۵ ټریلیونه ډالر عاید ترلاسه کړي. دا پروژه ٦ دهلیزه لري چې د چین-منګولیا او روسیې دهلیز دی، د نوي اوراسیا

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ځمکنی دهلیز دی، د چین-مرکزي اسیا او لویدیځې اسیا دهلیز دی، بنګله دېش-چین-هند او میانمار دهلیز دی، انډوچین جزیرې دهلیز دی او د چین-پاکستان اقتصادي دهلیز دی.[2]

د چین ـ پاکستان اقتصادي دهلیز (CPEC) د چین د یو کمربند یوې لارې پروژې برخه ده چې په ۲۰۱۵ز. کال کې پرانېستل شو. دغه دهلیز د څو پروژو ټولګه ده چې د چین له لوري په پاکستان کې عملي کېږي او ارزښت یې ٦٢ میلیارده ډالره اټکل شوی دی، یعنې د دې دهلیز له لارې تراوسه چین په پاکستان کې ۲۵ میلیارده ډالر پانګونه کړې ده. د دې دهلیز له لارې چین غواړي چې د پاکستان په اقتصادي پرمختګ کې برخه واخلي. چین د دې پروژې له لارې په پاکستان کې د زېربنا په جوړولو، د عصري او ټرانسپورټي شبکو په رامنځته کولو او د انرژۍ او برېښنا په برخه کې پانګونه کړې ده. د PwC د راپور پر بنسټ پاکستان به د ۲۰۳۰ز. کال تر پایه د نړۍ شلم ستر اقتصادي ځواک شي او CPEC به له ۲,۳ میلیونو څخه زیات نوي کاري فرصتونه رامنځته کړي.

**د سیپیک له لارې چین په لاندې پنځو برخو کې پانګونه کوي:**

1. ګوادر سمندري بندر، هوایي ډګرونه، روغتونونه، ښوونځي او استوګنیز شهرکونه؛
2. د انرژۍ د تولید پروژې چې په کې د ډبرو سکاره، بادي برېښنا، اوبه‌یي برېښنا او لمریزه برېښنا شاملې دي؛
3. سړکونه، لویې لارې، رېل پټلۍ او هوایي ټرانسپورټ؛
4. ځانګړي اقتصادي زونونه (SEZs) او صنعتي پارکونه؛
5. د ۸۲۰ کیلومتره فایبر آپټیک کیبل پروژه چې پاکستان به پر یو ډیجیټل هېواد بدل کړي.[3]

## په سیپیک کې د افغانستان ګډون

چین غواړي چې افغانستان هم د سیپیک د دهلیز برخه کړي او د همدې موضوع لپاره یې څو ځلې له پاکستاني لوریو سره خبرې اترې هم کړې دي. چین غواړي چې په افغانستان کې د پاکستان له اقتصادي او ډیپلوماتیکي نفوذ څخه ملاتړ وکړي او له دې لارې غواړي چې له پاکستان سره دوه اړخیز اقتصادي دهلیز (CPEC) په څو اړخیز اقتصادي دهلیز CAICAP (China, Afghanistan, Iran, Central Asia and Pakistan) باندې بدل کړي.[4] د چین له دې پلان څخه په ښکاره څرګندیږي چې دوی غواړي افغانستان د یو کمربند یوې لارې پروژې برخه کړي او سیپیک د دې پروژې برخه ده، نو که افغانستان د سیپیک برخه کېږي دا په دې معنی چې د افغانستان او پاکستان اقتصادي اړیکې به هم له دې لارې قوي شي او د دوی ترمنځ به سوداګري لا پیاوړې شي.

د ۲۰۲۳ز. کال په می میاشت کې د چین د بهرنیو چارو وزیر چېن ګنګ پاکستان ته سفر وکړ او د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر بلاول بهټو زرداري، جمهور رئیس عارف علوي او د پوځ له مشر جنرال اصف منیر سره یې وکتل او د سیپیک په اړه یې ورسره تفصیلي خبرې وکړې چې په دې خبرو کې د چین د بهرنیو چارو وزیر له پاکستاني لوریو څخه د امنیت ټینګولو غوښتنه وکړه ځکه پرته له امنیت څخه د سیپیک او دې ته[1] ورته پروژو تطبیقول ناشوني دي، همدارنګه د چین د بهرنیو چارو وزیر له پاکستاني لوریو څخه د هغو چینایانو د امنیت خوندي کولو غوښتنه هم وکړه چې په پاکستان کې په چینايي شرکتونو کې کار کوي او د پاکستان له اقتصادي رغونې سره همکاري کوي.[5] همدارنګه د ۲۰۲۵ز. کال د اګست په میاشت کې د چین-پاکستان او افغانستان د درې اړخیزې ناستې په شپږمه غونډه کې هم له سیپیک سره د افغانستان د نښلون بحث په اجنډا کې و او په دې برخه کې عملي خبرې هم شوې دي، البته یادونه باید وکړو چې دغه درې اړخیزې ناستې تر هغې ګټورې او نهايي نه دي تر څو د پاکستان او اسلامي امارت د تصمیم نیونې نهايي مرجع په دې کې دخیله نشي، په دې معنی چې په پاکستان کې د نهايي تصمیم واک له پوځ سره دی او په افغانستان کې له کندهار سره، نو تر هغې چې پوځ او په کندهار کې ناست امیرالمؤمنین په سیپیک کې د افغانستان له ګډون سره رضایت ونه ښايي تر هغې دغه درې اړخیزې ناستې په سیپیک کې د افغانستان د ګډون په اړه بې فایدې دي.


## د افغانستان لپاره یې ګټې

که افغانستان له سیپیک سره وصل شي، نو کېدای شي لاندې ګټې ترلاسه کړي:

**۱- د زیربناء جوړېدل:** افغانستان له څو لسیزو جګړو څخه راتېر شوی دی، زیربناء یې کمزورې او حتی ویلای شو چې په نشت حساب ده. پرته له زیربناء سوداګري، ټرانزیټ او سیمه ییز اتصال ناشونی دی، ځکه د لویو او معیاري سړکونو او لارو موجودیت د دې لپاره اړین دی. که افغانستان غواړي له سیمې سره ونښلي او سیمه ییزې پروژې له افغانستان څخه تېرې شي، نو که پراخ او معیاري سړکونه او یا هم معیاري او پراخ هوايي ډګرونه موجود نه وي، طبیعي ده چې د سیمې هېوادونه به په بدیلو لارو فکر وکړي چې دا کار د افغاستان د سیمه ییز اتصال مخه نیسي.

نړیوال بانک په ۲۰۱۸ز. کال کې په جنوبي اسیا کې د ټرانسپورټي اسانتیاوو د موجودیت په اړه سروې وکړه او له مخې یې غړو هېوادونو ته نمرې ورکړې، همدارنګه د نړۍ له درجه بندۍ سره له پرتلنې وروسته غړو هېوادونه ته درجې هم ورکړې، چې تر ټولو ډېرې نمرې هند ( له ۵ نمرو څخه ۳,۱۸ ) او تر ټولو ټیټې نمرې افغاستان( له ۵ نمرو څخه ۱,۹۵) ترلاسه کړې.[6]

اووم شکل: د ټرانسپورټي سهولتونو د موجودیت له مخې د جنوبي اسیا هېوادونو نمرې[7]




همدرانګه د ټرانسپورټي اسانتیاوو له اړخه د نړیوال بانک له سروې سره سم افغانستان په نړۍ کې په ۱۶۰ نمبر کې راغی،[8] نو معلومېږي چې د افغانستان ټرانسپورټي اسانتیاوې په ډېره ټیټه کچه کې دي چې دا پخپله د افغانستان سیمه ییز اتصال لپاره ننګونه ده.

اتم شکل: د ترانسپورټي سهولتونو د موجودیت له حېثه په نړیواله کچه د جنوبي اسیا هېوادونو درجه بندي[9]

| | |
|---|---|
| Afghanistan | 160 |
| Bangladesh | 100 |
| Bhutan | 149 |
| India | 44 |
| Nepal | 114 |

که افغانستان له سپیک سره وصل شي، نو چین به د دې پروژې د بریالي کېدو لپاره د افغانستان پر لویو لارو، هوایي ډګرونو، صنعتي زونونو، د انرژۍ په تولید، رېل پټلۍ په جوړولو او نورو برخو کې پانګونه وکړي چې له دې سره به د افغانستان زېربناء ورغېږي.

**۲- افغانستان به له سیمې سره وصل شي:** که افغانستان له سپیک سره وصل شي، نو دا د دې معنی ورکوي چې افغانستان به په مستقیم ډول ګوادر بندر ته لاره پیداکوي او کله چې ګوادر ته لاره پیداکړي له هغې لارې کولای شي چې عربي سمندر ته او د سیمې له نورو هېوادونو سره وصل شي چې دا به د سوداګرۍ او اقتصادي پرمختګ لپاره ډېره مهمه وي.

**۳- د سوداګرۍ او ټرانزیټ د فرصتونو زیاتوالی:** که افغانستان له سپیک سره وصل شي، نو د مرکزي اسیا، چین، پاکستان او منځني ختیځ ترمنځ به د سوداګرۍ په مرکز بدل شي او د افغانستان میوې، منرالونه، قالینې او نورو توکي به په اسانۍ او چټکۍ د دغو هېوادونو بازارنو ته ورسیږي.

**۴- د کاري فرصتونو زیاتوالی:** د سپیک له لارې به بېلابېلې پروژې په افغانستان کې پیل شي که هغه زیربنایي دي او که نورې، چې له دې لارې به ګڼو افغانانو ته کاري فرصتونه رامنځته شي او دا یې د افغانستان لپاره مهمه ګټه ده.

**۵- سیاسي او امنیتي ګټې:** که افغانستان له سپیک سره وصل شي، نو دا به له یوې خوا د هېواد د انزوا پر ماتېدو کې مهم رول ولوبوي، ځکه افغانستان به د چین، پاکستان، منځني ختیځ او مرکزي اسیا سره د یو لوی سیمه‌ییز اقتصادي چوکاټ برخه وګرځي او دا کړنه به دغه هېواد له انزوا څخه راوباسي او له بلې خوا به د افغانستان سیاسي اړیکې له پاکستان سره ښه شي چې له سیاسي پلوه دا کار د افغانستان لپاره ډېره ګټه لري ځکه موږ تل د پاکستان له امله بې ثباته شوي یو او له پاکستان سره ښې اړیکې د افغانستان په ثبات کې مهم رول لري.

همدارنګه له سپیک سره نښلېدل له امنیتي پلوه هم د افغانستان لپاره ګټه لري ځکه چین او پاکستان به هڅه کوي چې افغانستان له ناامنۍ وژغوري ځکه د سپیک د بریالي کېدو لپاره د باثباته او امن افغانستان شتون اړین دی او کله چې په افغانستان کې د امنیت شتون د پاکستان په ګټه شو، نو له امنیتي پلوه افغانستان ډاډمن کېږي ځکه اکثریت وخت د افغانستان د ناامنۍ لامل پاکستان دی.

## د افغانستان لپاره یې زیانونه


له سپیک سره د افغانستان نښلېدل ځینې زیانونه هم لرلای شي چې لاندې یې یادونه کوو:

**۱- پر پاکستان د تکیې زیاتېدل:** د سپیک ستره برخه له پاکستان څخه تېرېږي او افغانستان به په لوړه کچه د پاکستان پر لارو او بندرونو په ځانګړي ډول په ګوادر بندر تکیه شي چې دا به پر پاکستان د افغانستان تکیه زیاته کړي او له تاریخي پلوه دا موضوع څرګنده ده چې کله هم افغانستان پر پاکستان تکیه شوی او بدیلې لارې یې نه دي موندلې، نو پاکستان له دې کړنې ناوړه استفاده کړې او افغانستان یې تر فشار لاندې نیولی او خپلې غوښتنې یې پر منلې دي.

**۲- د چین په (Dept Trap) کې لوېدل:** ډیپټ ټریپ یا د قرضونو په لومه کې د کوچنیو هېوادونو را ایسارول د چین هغه ډیپلوماسي ده چې غواړي کوچنیو هېوادونو کې په قرضونو باندې پروژې عملي کړي او یا هم زیربناء جوړه کړي او بیا د هغو قرضونو د خلاصون لپاره نور قرضونه واخلي تر دې چې هغه کوچني هېوادونه له افلاس سره مخامخ شي او له دې لارې د هغوی ټولې سرچینې تر کنټرول لاندې راولي.[10] د چین دې ډول

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ډیپلوماسۍ ښه بېلګه يې په جنوبي اسيا کې سريلانکا ده، نو که افغانستان له سپيک سره نښليږي، نو دا دهليز په افغانستان کې زېربناء ته اړتيا لري چې د دومره پراخې زېربناء جوړول د افغانستان له وسه پوره نه دي، نو چين به په قرضو د دې زېربناء په جوړولو پيل کوي او هسې نه افغانستان د چين د ډېبټ ټرېپ په لومه کې ونه لوېږي او که دا کار کېږي، نو د افغانستان ټولې سرچينې او ان حکومتي کنټرول به د چين لاسته ولوېږي چې دا د افغاستان لپاره ستر زيان دی.




**۳- د سيمه ييزو سياليو پيلېدل:** افغانستان تل د ستر قدرتونو سياليو خراب کړی دی او تر څو چې دغه خاوره د سيالۍ له مرکز څخه لرې نه کړای شي تر هغې پرمختګ نشي کولای. هند له سپيک سره د افغانستان نښلېدل رد کړي دي او مخالفت يې ښودلی دی، که د دې باوجود هم افغانستان له سپيک سره ونښليږي، نو کېدای شي له هند سره يې اړيکې خرابې شي او دا به يو ځل بيا په افغانستان کې د هند او چين او هند او پاکستان سيالۍ ته لاره پرانېزي چې دا په هيڅ صورت د افغانستان په ګټه نه دی.

Center for Strategic

### هند ولې په سپيک کې د افغانستان له ګډون سره مخالف دی؟

هند له سپيک سره د افغانستان وصل کېدل رد کړي او له دې کار سره يې مخالفت ځرګند کړی دی، دا چې ولې هند له سپيک سره د افغانستان نښلېدو سره مخالفت ښودلی، دلته يې پر لاملونو بحث کوو:

**۱- ځمکنۍ بشپړتيا او حاکميت ته يې ګواښ**

هند وايي چې سپيک د پاکستان تر اداري لاندې کشمير (ګلګت بلتستان) څخه تېرېږي او دا هغه سيمه ده چې پاکستان اشغال کړې ده او د دې سيمې په اړه تراوسه پرېکړه نه ده شوې او هند پر دغه سيمه دعوه

لري، نو د سپیک سره د افغانستان نښلېدل د پاکستان د خاورې په توګه د دې سیمې په رسمیت پېژندل دي او دا کړنه د هند ځمکنۍ بشپړتیا سره په ټکر کې ده. هند وايي چې د BRI پروژه باید د سرحدونو او قلمرونو حساسیتونه په درک سره پرمخ یوړل شي.[11]

**۲- د چین د سیمه ییز نفوذ پراختیا**

هند او چین په سیمه کې ستر سیالان دي چې جیوپولتیکي شخړې هم ترمنځ لري. د SIPRI د راپور پر بنسټ د له سپیک سره د افغانستان د وصل کېدو په اړه د هند د مخالفت اصلي لامل له دې ځای ځخه سرچینه اخلي چې هند وايي بېجینګ له دې لارې غواړي په سیمه کې خپل نفوذ زیات کړي او هند په ستراټیژیکه محاصره کې را ایسار کړي.

**۳- د چابهار بندر بې ارزښته کېدل**

هند د ایران ا افغانستان سره د چابهار بندر په دې موخه پرانېسته چې د سپیک بدیل شي او سمندر ته د افغانستان د رسېدو په موخه د کراچۍ او ګوادر بندر بدیله لاره شي او پر پاکستان د افغانستان تکیه راکمه کړي. هند د چابهار بندر له لارې له افغانستان او مرکزي اسیا سره وصلیږي او ځومره چې چابهار کې درې اړخیزه پانګونه ډېرېږي په هماغه کچه د هند دغه پروژه بریالۍ کېږي، نو که افغانستان له سپیک سره وصل شي، نو په مستقیم ډول به له ګوادر سره وصل شي او افغانستان به له دې لارې سمندر ته لاسرسی پیداکړي چې له امله به یې د چابهار پروژه بې ارزښته او کم رنګه شي، له همدې امله هند په سپیک کې د افغانستان له ګډون سره مخالفت ښودلی دی.[12]

## پایله

چین غواړي چې د یو کمربند او یوې لارې پروژې د لا پراختیا په موخه د دې پروژې اړوند د سپیک دهلیز کې افغانستان هم راګډ کړي، خو د دې کار لپاره د اسلامي امارت او پاکستان کړکېچني اړیکې ستر خنډ دی، د همدې خنډ د له منځه وړلو او د پاکستان او اسلامي امارت د اړیکو د ښه والي په موخه چین د پاکستان، چین او افغانستان د درې اړخیزو اړیکو ناستې پیل کړي دي او هڅه کوي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې ښې شي او افغانستان له سپیک سره وصل شي.

له سپیک سره د افغانستان نښلېدل د زېربناء د جوړېدو، سیمه ییز اتصال، سوداګرۍ او ټرانزیټ، کاري فرصتونو زیاتوالي او د سیاسي او امنیتي موخو لپاره ګټور دی، خو پر پاکستان د تکیې زیاتېدل، سیمه ییزو سیالیو بېرته راګرځېدو او د چین د قرضونو په لومه کې لوېدل یې ستر ګواښونه دي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

هند له دې امله په سپیک کې د افغانستان له ګډون سره مخالف دی چې دغه دهلیز د پاکستان تر ولکې لاندې کشمیر څخه تېرېږي او هند پر دغه سیمه دعوه لري او دویم ستر لامل يې د چابهار بندر بې ارزښته کېدل دي ځکه افغانستان به د دې دهلیز له لارې په مستقیم ډول ګوادر بندر ته لاسرسی پیداکړي.

## وړاندیزونه

۱- افغانستان اسلامي امارت دې د يوې پراخې څېړنې او ارزونې له لارې په سپیک کې د خپل ګډون د ګټو او زیانونو ارزونه ترسره کړي.

۲- افغانستان اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې  چين له لوري ترلاسه کېدونکي پور کې دقت وکړي، تر څو د ډېبټ ټرېپ په لومه کې ونه نښلي.

۳- که افغانستان د سپیک برخه ګرځي، نو تر هر څه مخکې باید له پاکستان سره اړیکې جوړې شي او دوه اړخیز ډاډ رامنځته شي.

۴- په دې برخه کې باید د هند اندېښنې په پام کې ونیول شي او دغه موضوع له ډیپلوماتیکو لارو چارو حل شي، تر څو افغانستان يو ځل بیا د سیالۍ ډګر نشي.

## مأخذونه

[1] د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت، په کابل کې د افغانستان، چین او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو د ډیالوګ شپږمه ناسته ترسره شوه، ۲۰۲۵/۲۱/۸، د لاسرسي وړ لینک

2 Briefing. “One Belt, One Road (OBOR): China's regional integration initiative”, European Parlement, July 2016, P. 4. Access link

3 CPIC. “China-Pakistan Economic Corridor (CPEC), Access link

4 Ashraf Jehangir Qazi, Pakistan’s Afghanistan policy, DAWAN News, August 17, 2023, Access link

5 Munir Ahmed, Pakistan, Afghan Taliban Agree to Boost Trade, Lower Tension, THE DIPLOMAT, May 08, 2023, Access link

[6] Bipul Chatterjee and Surendar Singh, Regional Connectivity in South Asia, Sustainable Development Policy Institute, 2020, P. 185. Access link

[7] Ibid.

[8] Ibid.

[9] Ibid, P. 186.

10 Wallstreetmojo. “What Is Debt Trap?”, Access link

11 Neha Manhas, Neeraj Singh Manhas and Hari Yadav G. “Shifting Power Dynamics in South Asia: The
Geopolitical Impact of China’s CPEC on Regional Rivalries”, Discover Global Society, 2025, P. 10, Access link

12 Ibid.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000